مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال محمد علی (په اردو ژبه)
ژباړونکی ع . رشید

۲۰۲۳/۰۸/۱۹

د افغانستان د خپلواکۍ د کالیزې په درشل کې

# شاه امان الله اود سقاو زوی




اخځ: مضامین محمد علی رح حصه دوم ص ۳۴۹ ــ ۳۶۱ مخونه د چاپ کال ۱۹۴۰

**دلیکوال په اړه مخکنۍ یادونه :**



محمدعلي

**دهند د خپلواکۍ نامتو مبارز پښتون محمدعلي چې په محمدعلي جوهرباندې هم نامتودی، دهندوستان دخپلواکۍ دلارې په مبارزه کې دځانګړې دریځ اومقام خاوند نوم دی، چې هرڅوک یې له نامه سره آشنا دي، د شاه امان الله اودافغانستان دخپلواکۍ له پلویانو او ستایوالوڅخه دی، د اماني سقوط پرمهال ده په هندوستان کې ډیرې هلې ځلې وکړې چې باید شاه امان الله چاچې په آسیا کې یې افغانستان دلومړي ځل له پاره د آزادۍ خاوند کړ او اوس انګریزي استعمار د خپلو شومو موخوپه خاطرظاهرآ دجهل اوغلامۍ داړندوانو(سقاویانو) اونورو انګریزي عمالود شرارت او توطیو په ترڅ کې له واکه بیواکه کړی و بیرته پرواک شي، اروابښاد محمد علی دخلافت دتحریک له لارې ډیرې هڅې وکړې چې امان الله خان بیرته په واک او افغانستان دثبات اوپرتم خاوند هیواد شي. په دغه مقاله کې هم نوموړي پرهمدغه موضوع باندې دقیقه رڼا اچولې اوله هغوشوموموخویی پرده پورته کړې چې دانګریزي حکومت له خوا په هند کې دغازی امان الله اودهغه دواکمنۍ پرضد پیل شوې وې، لیکوال په دغه مقاله کې په ډیروبرخوکې حقایق لړیه اشارو اوسمبولونوکې تشریح کړي دي،خومطلب یې ګرد پردغوټکو راڅرخي چې دامان الله خان پرضد ددغې هنګامې مسوول انګریزان دي اوکوم جاهل یې چې دسقاوپه نامه دافغانستان دخپلواکۍ داتل په مقابل کې د شینواراواونوروارتجاعي بغاوتونوپه پایله کې واک ته رسولی دی یونا منلی اودیوې تاریخي سزا وړڅوک بللی دی. محمدعلي په ۱۹۳۱ کال کې په یورشلم کې له ژوند سره خدای پامانی کړی، خوترخپل مرګ دمخه یې د شاه امان الله اوله هغه وروسته یې د جنرال نادرشاه هڅې د افغانستان دآزادۍ دژغورنې په خاطرستایلی چې هغه به هم له ګرانولوستونکوسره په خپل وارشریکې شي . درناوی (رشید)**

**اصل متن :**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تریوه کال هم یوڅه زیاته موده وشوه چې، اروپاته د اعلیحضرت شاه امان الله خان دسفرپه اړه په بمبي کې یوې ورځپاڼې ددغه سفرپه اړه خپل خیالات په ګوته کړل اوپه دغه اړه یې ولیکل چې، د حیرانتیا خبره خوداده چې یوشهزاده چې دخپل ارواښادپلار ترټولو لوی زوی نه و، دهغه له وژنې وروسته یې دهغه له کوچني وروروڅخه یوپریود افغانستان واکمني ترلاسه اوله هغه وروسته یې د بریتانیې په شان له زبردست او لوی دولت سره د مقابلې ډګرور ووت اوخپل ملک یې دهغه استعمارله پنجې څخه خپلواک کړ،اوپه عین حال کې د پردیوپرتحریک، اشاره اوسازشونوراټوکیدلي دمنګلوپه شان یاغي قبایلو دیاغیتوب په وړاندې هم بریمن شو، له هغه وروسته یې دخپلودغو بریاووپه پایله کې په ټول هیواد کې امن وامان وغوړاوه اودخپل نهه کلن واک په ترڅ کې پردې هم بریالی شوچې دیورپ پرسفر خپل نیلی زین اودخدای په نامه دې پرخپل واک اوخپلو پښو ودرېږي، نن هم هغه د لوړهمت والا ټولواکمن او پاچا له تاج اوتخت څخه د لاس پرسرکیدواعلان کړی، له پایتخت څخه په هجرت راوتلی اوله هغه ځایه څخه لرې دملک په یوه ګوښه کې ناست او دملک د بیا نیولو پرتابیا بوخت دی. په افغانستان کې ددغې نا څاپي هنګامې را منځ ته کیدل دحیرانتیا خبره ده، که رښتیاهم دغه ناڅاپي هنګامه دحیرانتیا وړنه ده نو شاه امان الله له نن څخه لس کاله دمخه دخپل پلارله وژنې وروسته، دخپل کاکا دلرې کیدواوبیاد خپل مشروروردیوې خوا ته کولوپه پایله کې د افغانستان پاچا کیدل اوبیادبریتانیې په وړاندې دآزادۍ جګړه دده د ملک اوحکومت  په اړه په خپله لکه دده د نیکه د خداداد حکومت خبره شوه چې دیولړدسیسواو پریوشمیرياغی قبایلوباندې دبري په ترڅ کې رامنځ ته شواوپه عین حال کې یې په ټول هیواد کې دامن وامان ټینګیدل اوله هغه وروسته دیورپ پرسفرباندې تلل داټول څه دحیرانتیا وړول.

تیرکال د اپریل په میاشت کې له انګلستان څخه د رویترله خوا یوعجیب تار راغی، چې په هغه کې یې روس ته د شاه امان الله خان پرسفرباندې خواشینی څرګنده کړې وه اوله هغه سره یې یوځای دافغانستان خارجه وزیر دملکې ثریا د پلارسرداراعلی محمود طرزي اوله یورپ څخه د بیرته ګرزیدو سفرته هم اشاره کړې وه،اوویلي یې ول چې افغانستان ته دهغوله بیرته ستنیدوسره سم به په دغه هیواد کې یوه باغیانه هنګامه اوشورش رامنځ ته شي. په کوم وخت کې چې دغه تاراودغه خبردهندوستان په اخبارونوکې خپورشو، یوه چا هم له دغواخباروالاوو دا ونه ویل چې خدایه خیرکړې، د پردیو اغیارو اودسیسه کارانوغوا لکه چې بیا لنګه شوه، اوتوطیو یی رنګ راوړ.
کله چې د شینوارو اونورو قومونو هنګامه را پیل شوه، له هغه سره سم د استعماري اودهند دحکومت سازشونو ته داخبارلیکونکوپام ور واوښت اوداچغې یې پیل کړې چې له افغانستان سره د بریتانوي حکومت کوم اړیکي ول هغه باید خراب نه شي، خوکه دهند اوبریتانیا واکمنان لږخدای پرسرحاضرکړي، نوښه به داوي چې دمرض دنښو نښانو پرځای په خپله داصل مرض پروړاندې خپله مقابله پیل اودهغه دعلاج په اړه فکروکړي، د داغ په قول:

جب کوئی فتنہ زمانے میں نیا اٹھتاہے
وہ اشارے سے بتادتے ہیں تربت میری

په تیره بیاکله چې په ختیزوملکوکې نوې فتنه رامنځ ته کیږي، نوبیا دخدای ټول مخلوق د بریتانیا دروښانه قبرپرلوراشارې کوي، زه نه شم ویلای چې دهغه پایله به څه کیږي خو داڅرګنده ده چې ددغومقدمو ملزمانوته سزا ترهغو زیاته په دویم ګام کې داخبارلیکونکود تنبهه په ترڅ کې دهغوی په برخه ده ځکه چې دلته دافکرپه روښانه توګه کیږي چې دافغانستان په اوسني هنګامه کې هم د استعمارلاس په یوډول نه یو ډول خامخا  شته دی.
په دغه لړاو د دویمي عمومي جګړې په ترڅ کې په حجازکې د فتنې اچونکو کرنل لارنس اود کراچۍ دهواباز شاه اویا د لاهورد یوشمیرپه قول « پیرکرمشاه» نومونه هم په همدغه زوراوشورکې اخیستل کیږي، چې دهندوستان سړی سړی هغه پیژني، اوپردې باوري دي چې دافغانستان په هنګامه کې هم دهغوحضراتو هڅې اوکاروایۍ یقیني دي.
دهغو سلګونه نه بلکې زرګونه کالونو اړیکو له مخې چې هندوستان اوافغانستان یې له یوه بله سره لري، نوپه دې کې هیڅ شک نشته چې نن سبا د هندوستان په ګوټ ګوټ کې دافغانستان پرمسله باندې بحثونه اوتبصرې رواني دي، په دغه ترڅ کې هرڅوک پراخباروالاوو باندې اعتراض کولای شي، ځکه کومې تبصرې او تورونه چې نن سبا دهندوستان ددغواخبارونو مخونهورباندې ډک دي، په دغوټولوکې بیاهم خبرې، تبصرې اوتورونه ټول په یوه رنګ او یوشان سره داسې ترسترګو کیږي چې توپیریې په ډیره سختۍ سره کیدای شي.

یک ہنگامے پہ موقوف ہے گھرکی رونق
نوحہ غم ہی سہی نغمہ شادی سہی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دطرابلس او بلقان اوله بيانړيوالي جګړې اخباروالاووته ځومره موضوعات ورپيدااوپرهغو بوخت شول ، له هغه وروسته چې کله دترک تعاون تحريک رامنځ ته شو،بيا پرهغه بوخت شول، له هغه  وروسته زنګ بدل شو،د نهرورپورټ بله هنګامه را منځ ته کړه، داهغه کړنې او کرنې وې چې په حجاز کې يې د سلطان ابن سعود اوهدم آثاراو قبرونه داسې سره آب پاشي اودړې وړې کړل چې له توپان راتلو سره يوشانی وو، خوله هغې تولې ورانۍ وروسته بياهم يوڅه شين توب او سمسورتيا ليدل کيده، پرهندوستان زرپاشي اوپه افغانستان کې وينې تويونه يوځل بيا د بلقان او ترک اوهمداسې د عمومي جګړې يادونه تازه کوي،خوچيريوبينوا فقير؟البته په معنوي لحاظ نه، ديورپ دهڅواوعلاج په اشاره پرقبرونو باندې ناست دی اوخپلې پښې وربانديې زنګوي، چې اخباروهم دغه حشرته د دعا پرځای دنشرملاتړلې ده، اوخپل اخبارونه يې د افغانستان پرهنګامه اوتورونوباندې چاغ کړي دي، له دغواخبارونوڅخه هيله کيږي چې دلږ وخت له پاره پردغه ټکي غوروکړي چې دا دغم ويرنه دغم هنګامه ده دا د ښادۍ کومه هنګامه نه ده، که دغم له دغې هنګامې وروسته د بلې کومې نغمې زمزمې رامنځ ته کيږي، بايد ترهغوپورې په دغه برخه کې لږترلږه د ورورولۍ اوهمدردۍ روحيه په پام کې ونيول شي. ځکه چې دهندوستان بچی بچی ددغو قياساتواواټکلونودغورپه ترڅ کې پردغه پايله اوباور ولاړدي چې دا د پرديو اواغيارو توطيه ده، اوپردغه ټکي باندې بالغيب باوردي چې دآفغانستان خپلواک بلل اودنوروله غلامۍ يې د خوندي ساتلوپه خاطرچې کومې هڅې په هندوستان کې رواني دي، هغه تراوسه پورې په هيڅ ډول کافی او بشپړې نه دي. پرهندوستان چې کومه وبا راغې هغه ديوه دايمي مرض په توګه دلته پاتې کيږ ي، لکه څنګه چې وبا راغي هغه بيا نه ځي، خوچې کله طاعون راغي هغه نوبيا پاتې کيږي اودايمي اقامت بڼه غوره کوي،خو چې کله د طاعون پربڼه انفلونزا رامنځ ته کيږي هغه نوبيا مساپره نه وي هغه هم دلته دايم استوګنه کيږي، دلته دا بلاوې لړوې چې اوس ورپسې  ايلکشناټس او ريزوليوشنټس وباوې هم پرزياتې شوې اوټول ملک يې ترخپل ښکارلاندې را ښکيل کړی دی.

د پيړيوپه اوږدو کې شاعرانود پاچاهانوپه درباروکې دومره دروغجن تعريفونه اوقصيدې نه دي ويلې اونه دومره له نامردانوڅخه دمردجوړولو تعريفونه چا اوريدلي اويا ترسره کړي لکه چې ديوه کانديد په اړه اودهغه دشخصيت په اړه نن سبا دلته ترسره کيږي. دهغه شريف خاندان والا چې پلرونه او نيکونه يې په ذاتی توګه د درناوي اواحترام وړوو له هغوی څخه ځان غړوي اودخپل يوه اميدوار په خاطر کورپه کورګرزي اوخوله يې په چاپلوسۍ خلاصه کړې نه ورټوليږي، دا شوه د ايلکشنټس وبا اوس راشه د روزليوشټس حال اوقال واوره کوم چا چې د (تجويز) له پاره د روزليوشن انګريزي لفظ وضع کړی ، هغه به له شکه پرته دانګريزقام په شان دعملي کارکونکی په څيرلوړانسان وي، ښه به پوهيږي چې ترڅو دکوم انسان يا انسانانو ټولون هوډ په هوډ سره ونه شي،ترهغه وخته به يې يوه مرحله هم ترسره نه شي، کيدای شي هغه داسې فکروکړي چې ګواکي دکارتجويز يې شوی دی، چې دهغه له مخې بايد دکوم انسان يا انسانانو کوم جماعت برابراوجوړکړي، همداده چې په دغه ترڅ کې هوډ په هوډ اود تجويز برابرولو نوموني له يوې بلې سره مرادف فکرکيږي، د « رزليوشن» لفظ هم په همدغه هدف وضع کيدای شي، خو له دې بيا دا څه ښکاري چې په همدغه پلمه به پريوه قام باندې ډده لګيږي اوځان به په دغه پلمه له سمندره هغې خوا ته رسوي، دخدای پر۳۱ کروړه مخلوق به خپله حکمراني چلوي د نورو ژبې به غبي ورته ښکاري اوخپله ژبه به پرکند ذهنه اودخرابې حافظې پرخاوندانوباندې زده کوي، اوپه همدغه شان به د « روزليوشن» لفظ دهندوستان په ۱۹۰۰ مايلواوږدوالي او ۱۵۰۰ مايلو لنډوالي په هره کوڅه اومالت کې اوريدل کيږي، چې دلته يې معنا په قراني اصطلاح نه (عزم الامور) کيږي اونه هم خپلواکه اراده ، يوازې دڅوالفاظواوڅوکرښو اوپاڼو تعبيراومعنا چې چټيات اود چټيات ويونکو هڅې چې يوازې همدغه ۳۱ کروړه ولس غلام کړي بل څه اوبله معنا نه ترې اخيستل کيږي. دغه ته د روزليوشناټس وبا ويله کيږي چې  په هغې کې نن د افغانستان دهنګامې لړۍ هم پرهره خوا په خبرونواوتورونوبرسيره د رزليوشن په چغواوبغاروکې هم د خلکو غوږونه کاڼه کړي اوترهغو پورې رسيږي، چې زياتره تورونه اوتوطيې يې د باوراواعتماد وړهم شوې دي.

که له شاه امان الله سره په دغه زوراوشورکې دومره خواخوږي ترسره کيدای شي چې په افغانستان کې د بريتانيا د مداخلې مخنيوی وکړای شي، نوبيا کيدای شي د وبا دخوريدو مخنيوی هم وشی. خونن سبا دلته هرشخص اوهرڅوک له اټکلوڅخه کاراخلي او له حقيقت څخه له سره نا خبره دي، زما خپل قياس تردغو تورونواو افواهاتو اوتردغو روزليوشنو ورهغه خوا دادی چې په دغه اړه ترټولومهمه خبره دانګريزانوله پاره داده لکه چې روسي پوځ دخپلو تياريوپه ترڅ کې په ډاګه اعلان کړې چې که د بريتانيا يو سرتيری اوسپاهي هم دافغانستان پرخاوره باندې قدم کيږدي دا به روس دخپل ځان په وړاندې دجنګ اعلان وګڼي اوخپل پوځ به افغانستان ته وردننه کړي.

دويمه رښتيا خبره زما په وړاندې د ديوان چمن لال صاحب د پوځ د برتي کولو خبره ده چې غواړي له دغې لارې له شاه امان الله سره په عزم اوجزم سره مرسته وکړي خو زما له پاره دا په خپل وارزياته د باور وړ خبره نه ښکاري، ځکه ما ته دافغانستان دغه حالت چې د پنجاب پرهندوانويې لړزه ورګډه کړې ده، دغه حالت که افغانستان استوګنی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دی، یاهم د کوم بل ولایت اویاهم علی برادران وي دوی دغه تورتړي چې دوی دکابل امیرپرهندوستان باندې واکمن کیدو ته رابولي،چې دکابل هغه امیربه شاه امان الله خان صاحب اویا کوم بل ځوک وي ، کله چې د ۱۹۲۷کال په دسامبرکي ما دمدراس د کانګریس او دکلکتي د مسلم لیګ په غونډو کې چې هغه دهندواومسلم د یووالي په موخه جوړې شوې وې په ډیره عاجزانه توګه د مولوی جی د یووالی د وینا ستاینه اوملاتړوکړدهغو په پای کې چا ګاندي جی ته دا ترغوږ ورتیره کړه چې ګواکي ما نعوذ بالله ذالک مالوی جي ته سجده کړې ده، ددغه ثمرنوبهار تر خوریدو ځو ورځې دمخه شاه امان الله خان اویاهم د تخت وارث دلته بمبی ته را ورسید، زموږخلافت والود الله اکبرد نارو په پورته کیدو سره هغوی خپله داومنله دهندواومسلمانانو ترمنځ هسې هم ډیروینې تویې شوې په دغه اړه ترټولو ښه خبره داشوه د شوکت صاحب د ډلوپه ګډون یوه ګډه غونډه را وبلله نوآیا دداسې غونډې په جوړولوکې د افغانستان اویاهم په بمبی کې دنورواوسیدونکولاس و، په بمبی کې د دیوان چمن لال دهندو ډلې دبې دردي نښې زما ترسترګولاندې تیرې شوې چې زیاتي ته یې په دغه اړه اړتیا نشته، حضرت شاه اسمعیل شهید په هندوستان کې د انګریزانوخلاف جهاد کول غوښتل، خود مصلحت له مخې یی په سرحد کې د سیکانودغلامي خلاف جنده پورته کړه، کاشکي چې زموږ مکرم چمن لال صاحب دافغانستان کې د سقاو له زوی ځخه دآزادۍ پرځای په پنجاب کې د انګریزانود ازادۍ په خاطرد پوځ ټولول اوبرتی کول پیل کړي وای لکه چې د شیخ سعدي خبره ده :


دسقاو زوی حبیب الله

دوستان را کجا کنی محروم
تو که با دشمنان نظر داری

همدا اوس له پیښورځخه خبرراغلی دئ چې دصوبه سرحد دخلافت کمیټې ترانتظام لاندې هلته یوه غونډه شوې چې په هغې کې یې دهندوانوله دغې همدردۍ اوخواخوږۍ ځخه مننه کړې ده، زه له دغو ورونوځخه دا پوښتنه کولای شم چې ایمانا په ډاګه ووایې چې دوی پردغې همدردۍ باندې د زړه له کومې باورمن دي او داهمدردي به په رښتیا هم د افغانستان دآزادۍ اوترقۍ له پاره وي، زه داهم په ډاګه پوښتنه کولای شم چې آیا دا دعلی حُب دی او که دمعاویه دوستي؟ دا همدردي ځنګه له هغه چا سره کیدای شي چې دهغه په زمانه کې افغانستان آزاد شو، دهغه په وړاندې له سلطنت ځخه دمرستې لاس لنډیږي،دهغه په وړاندې دمشروږور د لرې کولو اندیښنه له هغوحضراتوسره رامنځ ته کیږي چې هغوی کله هم دافغانستان آزادۍ نه غواړي اوهځه یې داده چې افغانستان هم باید لکه هندوستان همداسې غلام پاتې شي، اوداچې هغوی چې سم دم پردې باوردي چې دغه سړی هم لکه مصطفی کمال غونډې د دین دښمن اودشریعیت د توهین کولوپه نیت دی، دغوخلکوچې دهغه وروریې له کابله ویوست، هغه خو لږترلږه په خوله په شریعت ټینګارکاوه اوځان یې دشریعت پلوی باله.
ترکومه چې زما خپله رایه ده زه په ډاګه داخبره اعلانوم چې ما ته آزادي ګرانه ده، دا که هغه د یوه اسلامي هیواد وي اویاهم دکفرستان دکومې برخې وي، زه دجاپان په آزادۍ باندې هم خوشالیږم، دچین په هراړخیزېدول آزادۍ ته هم خوشالیږم اوهیله مند یی یم، همداسې دنیپال د ازادۍ غوښتونکی هم یم داسې لکه چې افغانستان د شاه امان الله په زمانه کې آزاد اوخپلواک شو.
ماپه دمشق کې دیوه نصراني اخبار« الاحرار» دا عبارت ولید زړه مې باغ باغ شو:« ځنګه ته هغه غلام کوې، په داسې حال کې چې دهغه مورهغه ازاد زیږولی دی» داځکه چې دغه عبارت د یوه سوچه مسلمان د رسول اکرام (روحی فداه) خلیفه حضرت عمر دیوه مسلمان ګورنر دتنبهه اوتوبیخ په خاطرهغه ته ویلی و.
که افغانستان له هره پلوه کافرهم وي، زما داسلام داغوښتنه اوهیله ده چې زه دهغه دآزادۍ غوښتونکی یم نه د هغه د غلامی اواستعباد ، له همدې امله دغه هنګامه چې نن په افغانستان کې روانه ده که زرترزره پای ته ونه رسیږي زه ډاریږم چې دغه آزادي به هم لکه دهغه دحکومت په شان ختمه شي، **که دشاه امان الله دتاج اوتخت له منځه تلل له دې امله وي چې هغه به دشریعت په درناوي کې ګام نه وي اوچت کړی، اودهغه ځای ناستی یوازې دالله دکلمة الله په ویلوسره پرتخت خیټه اچولې نوبیا د اعلیحضرت له مخالفینوځخه باید دا په ډاګه وپوښتل شي چې دپردیودغلامۍ په منلوسره به شریعت باقي پاتې شي؟ په افغانستان کې په خپله شریعت ټینګولواوساتلوته ترهرڅه دمخه اشد ضرورت دی،ځودغه هنګامه زر ترزره ختمه شي، اوداکارپه هغه شان اوهغه نیت سره کیدای شي چې په کابل کې اوسنی حکمران اودهغه ملاتړي په تمامه معنا قلع قمع اوله منځه لاړشي اواعلیحضرت شاه امان الله اودهغه پلویان اویا دواړو ترمنځ جوړجاړي په جدي توګه رامنځ ته شي.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس له هغوحضراتوڅخه چې هره ورځ غونډې جوړوي، اود اوږدو ويناووپه ترڅ کې پريکړه ليکونه صادروي پوښتنه کوم چې ديوان چمن لال صاحب چې کوم پوځ دغداروملايانوپرخلاف تيارکړی چې دا به پرکابل ورخيژوي په دغه اړه ماته په بمبي کې افغانی قنصل صاحب چې زما د ډيلی دقيام پرمهال کندهارته واستول شو اوزما د بمبی د قيام پرمهال هلته بيرته را ستون شوما ته په تکراري ډول سره داخبره کړې چې سردارعلی احمدجان په خپله ځان د کابل دواکمن په توګه نه بلکه دخپل عمه زوی شاه امان الله په پلوي د کابل پرلورد پرمختګ له پاره تياروي، په جلال آباد کې چې کوم حشرجوړشو، له هغه موعبرت وانخست، تاسې اوس هم دا فکرکوئ دشاه امان الله مخالف يوازې هغه بهشتی اړوندان دي چې په محض اتفاقی توګه يې په دوکې سره پرقرآن باندې يوڅه ليکلي اوخپاره کړي دي ؟ **دوی هم هغوی دی چې دوه زره ټوپک اوڅوزره ګولۍ يې دشينواروډګوشمالی په نامه ترلاسه کړې، پرحربيه کالج اووسلتون يې ډاکه واچوله اوهرڅه يې په خپل لاس کې ونيول، هغه (شاه امان الله خان) يې نه يوازې کندهارته وشاړه بلکی هغه يې دتاج اوتخت په پريښودو باندې هم مجبورکړ، نه يوازې هغه بلکی دهغه وروړچا چې په څرګنده يې شريعت لمانځه اودرناوی يې کاوه، هغه يې هم کندهارته په استولوباندې نا چارکړ.**

اوس خوموږ.ټولوته دا په ډاګه شوه چې نه يوازې ټول، بلکی د قبايلو اکثر سرداران له شاه امان الله خان سره دي، نه يوازې محمود طرزی صاحب دهغه شهزادګۍ ملکه ثريا،دعنايت الله خان ميرمن هم له دوی سره په دغه کاروان کې شريک اوبرخه وال دي، خوپه څنګ کې يې دسلطنت وزيران لکه سردارمحمد خان (محمود) سردارعبدالهادي خان اونورد بيلابيلولاملوپه خاطرله ده سره کندهارته له تګه بې برخې شول، کيدای شي داسې وي، خوله نښونښانوڅخه دغه امرلړترلږ له شک سره مل دی. په هرحال په دی کې بياد شک څه نشته چې دوی له اسلام سره دمينې اوخلوص اوياهم استعماری بډورشوتوښکارشول اوياداچې دخپلومريدانو؟ له نذراونيازڅخه بې برخې شول اوياهم ديوه متمدن اوترقي منونکی حکومت دخرڅونوبوج و چې افغانستان يې له پريشانيوسره مخامخ کړاودشاه امان الله خلاف شول. خوداهم يقيني ده چې شاه امان الله خان تراوسه هم پرافغانستان باندې کلک اغيزاواثرلري، دهمدغه اثراواغيزپايله ده چې شاه امان الله خان له تاج اوتخته دلاس پرسرکيدوله اعلان څخه دمخه يوفرمان جاري کړچې پرهغه باندې ديوشميرعلماوواومخورو لاسليکونه هم ول، په هغه کې پاچا ديوشميرسمونواواصلاحاتوبيرته اخيستل هم اعلان کړي ول، له ما څخه چې کله په بمبي کې قنصل صاحب داخبره واوريده هغه سخت حيران شو اوراته ويې ويل چې داسې کوم فرمان نه دی صادرشوی، يوازې اعليحضرت دا وعده کړې وه چې هغه به دخپلو هيوادوالو پرشکايتونوباندې غوروکړي،اوکه چيرې دهغوکوم يود شريعت خلاف کړنوپه باره کې وي هغه کړنې به د دوی په خوښه منسوخې کړي،دملايانوپرضد داعليحضرت کيدل،اودهغواغيزتراوسه هم پرافغانستان باندې ډيراغيزناک، ګټوراويقيني دی، خوزه له هغومسلمانانو( دهندوانو دهمدردو) چې هغوملايانوته کنځلې کوي،پوښتنه کوم چې تاسې دهغوملايانود ځپلوپه خاطر پوځ تيارکړی دی اود شاه امان الله دمرستې چغې وهئ نوبيا ولې تراوسه د يوچا ديوه ځواک دمصلحت په هيله ناست يئ،تاسوکه په دغه اړه دمصلحت غوښتونکي واست، نوبيا په دغه اړه کنځلماري دمصلحت تګلاره کيدای شي؟ ترکومه چې له آثارو اوقراينوڅخه ښکاري،داټول اټکلونه اوقياسونه دي چې کارتراخيستل کيږي، (داکثروخلکو دتبليغ علم هم هغه خبرونه اودرواغ خپرول دي هغه چې زموږبريتانوي قيديانوقيدخانې ته راکول کيږي) له هغوڅخه په ډاګه کيږي چې له دواړوخواووڅخه تيروتنې شوې دي، چې له يوې خوا ډيرې اوله بلې خوا کيدای شي لږې وي، دافغانستان اوسنۍ هنګامه کله هم ترهغه وخته پای ته نه رسيږي ترڅوچې دهغه هيواد واکمن اورعيت دواړه د زړه له کومي توبه وباسي اود زړه له کومي له شريعت سره سمو وعدوته وفادارپاتې شي اودهغو په سرته رسيدوکې جدوجهد اوهڅې وکړي، دافغانستان آزادي هغه مهال پياوړې کيدای شي چې هلته اسلامي حکومت پياوړی اودهغه په استازيتوب ذمه واراستازي کندهارته هم لاړشی،هلته هم ټول د اسلامي شريعت دعملي کيدو له پاره دې ته تيارکړي،څودمسلمان په لاس دمسلمان وينه تويونه بنده شي. زه اوس له خارجه سکرتر سرډنيس بری څخه خواشينی نه يم بلکې ما ته يې ديوه اميد نښه راکړې ده چې بايد د خلافت وفد پردغه آيه چې « انما المومنون اخوة فاصلحو بين اخويکم » باندې دعمل کولوجوګه شي، زما د هند له حکومت څخه داهيله ده چې :

مــن نمــی ګويــم زيــان کن يا به فکرسود باش
ای زفرصت بې خبر درهرچه باشی زود باش

معنا داچې دافغانستان داوسنۍ ستونزې وروستۍ پايله داستعمارله پاره په ګټه ثابته شوه، خوبد نظمي به ترهغوپاتې وي ترڅوچې استعمارته دخپلوناوړو موخودخوريدو په خاطرلاهم د نشراوتبليغ دريځ اغيزمن ثابت شي. دوی بايد پردې پوه شي چې افغانستان بايد دافغانستان اواسلام د ګټې په خاطر نه بلکی داستعماري ګټو دخوندي ساتلوپه خاطروژغورل شي، دافغانستان بدنظمي اواوسني هنګامه بايد زرترزره نوره پای ته ورسيږي. مخکې تردې چې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيز بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

واوره را پریوزي اوبیا دپوځونوله پاره لاره خلاصیږي باید دخلافت پلاوی کندهارته ورسیږي، اوله هغه وروسته باید کابل ته، پرکابل باندې حکومت هم باید دهوایي جهازونوښخه کاروانخلي، که یوځل د پوځونوکاروایي پیل کیږي اودجګړې د ډول غږ پرهره خوا انګازي خپروي، نوبیا به د حضرت ناصح چغه څوک اوري، هغه هم په افغانستان غونډې جنګیالي ملک کې، هغه مهال که بیا دخلافت پلاوی هم هلته ځي دهغه به څه ګټه پرته له دې چې دهندوستان مسلمانان ترظلم وستم لاندې وځوریږي په تیره بیا چې سوله ییزه تګلاره هم ونه څاري څه وي؟ نن سبا د (دیخنی ڠپه) هم دکریم خدای له لوریه د رحمت یوه نښه ده چې لاهم واوره پرته ده اود جګړې د اورمخه یې نیولې ده. خدای دې وکړي چې زموږ له ځوښه ډکو مقررینو اومحررینو پرژبواوقلموباندې لږترلږه دومره سیوری راخورشي ترڅوچې په افغانستان کې یوځل بیا امن اوامان ټینګیږي.

**د آزادی او اسلام جنډه دې هلته دتل له پاره آزاده رپي !،**

وما توفیقی الابالله علیه توکلت والیه انیب

**دلومړۍ مقالې پای**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ